# ادب، ټولنه او کره کتنه

**Literature, Society, and the role of Criticism**

ډاکټر نصیب الله سیماب

**Abstract**: *This paper argues on the essence of Literature reflecting the collective consciousness of a society. It elaborates that, Literature analysis of the popular responses and reactions regarding peculiar things can easily be understood and contextualized through an analytical glance at its literature. Criticism in this context helps in unpacking the reality and helps us to assess the creative dialectics in which creativity and society influence each other. One of the prime objectives of criticism is to ascertain the direction of popular literature for the purpose of expression, creativity and righteousness. Elaboration and analysis of the particular social behaviours in Literature also diversify the themes and patterns of reflections. The role of a poet and story writer further enhances while connecting their creativity with concrete social realities*

ادب د ژوند بغیر او ژوند د ټولنې بغیر خپل وجود برقرار نهٔ شي ساتلی. دا درې واړه د یو بل دپاره لازم و ملزوم دي. د یو کس چې څهٔ رنګه تعلق له ژوند سره دی هم دا رنګه تعلق هغه له ټولنې سره ایږدي. اوس پوښتنه دا ده د یو کس چې څهٔ رنګه تعلق د ژوند او ټولنې سره دی. ایا ادب هم له دې کس څخه د دا رنګه تعلق غوښتنه کوي؟.

د دې پوښتنې د ځواب په لټون چې کوم وخت مونږ ادب ته پام اړوو نو هلته مونږ ته د دې تعلق په حقله دوې نظرئې په نظر راځي چې له ډېره وخته څخه په ادب کښې را روانې دي. په یوه نه یوه بڼه کښې ځان ښکاره کوي. دا نظرئې یوه "ادب دپاره د ادب" او بله "ادب دپاره د ژوند" دي. په ادب کښې دا دوې نظرئې هغه نظرئې دي چې د جلا جلا ونې حېثیت لري. دا هره ونه ځانته جلا جلا ښاخونه لري چې په ادب کښې د مختلفو تحریکونو په بڼه کښې هر وخت ځان ښکاره کوي. هغه خلق چې د ادب دپاره د ادب د نظرئې قائل دي. هغه وائي چې ارټ د یو کس د شخصیت

ښکارندوئ دی. او د هغه د انفرادي جذباتو او احساساتو ترجماني کوي. د ارتيستي کار د ښکلا تخليق او د ښکلا لټون وي. په دې عمل کښې هغه د اجتماعي ژوند د مقاصدو محکوم او باندېني (خارجي) ماحول د غوښتنو پابند نۀ وي. او کوم خلق چې د ادب دپاره د ژوند په نظريه ولاړ دي. هغه دا فکر لري چې ادب د خوشحالۍ رسولو دنده ضرور په غاړه لري لېکن له دې سره سره د هغه فريضه دا هم وي چې د ژوند په حقله زمونږ په علم کښې اضافه وکړي. يعنې زمونږ دپاره له مونږ سره د خپل ذات او چاپېريال په پوهنه کښې مرستندوئ ثابت شي.

نوموړي فرانسيسي کره کتونکي ټين دا تصور وړاندې کړی دی چې:

" ادب د انساني ټولنې د تخليقي قوتونو ښکارندوئ دی. او اديب د ماحول تخليق وي د هغه ماحول په کوم کښې چې دی پيدا شوی دی او را لوئ شوی دی. هغه د يو خاص زماني او مکاني تخليق وي چې په هغه کښې پېښې شوې واقعې او سانحې په دۀ باندې اثر اندازه کيږي. دا رنګه د هغۀ ذهن په يو خاص غالب کښې تربيه کوي"(1)

د ټين دا تصور د فرد له ادب سره د تعلق و خوا ته اشاره کوي ولې چې اديب د کوم چاپېريال تخليق دی د هغۀ چاپېريال اثرات د هغۀ شعور او لاشعور په خپل ګرفت کښې واخلي. دا رنګه د ټولنې مثبت او منفي اقدار د هغۀ دپاره هم مثبت او منفي بڼه کښې ځان ښکاره کوي. د کومو حسونو څخه چې دی کار اخلي د هغۀ روزنه په هم هغه ټولنه کښې شوې وي.

"د کومو حسونو له لارې چې انسان تر نظرياتي حقائق پورې رسيږي. دغه هم د ټولنيز عمل له لارې ترلاسه کيږي او په کار راوستل کيږي. انساني حواس په خپله د ټولنيزې ارتقاء پابند وي"(2)

په دې وجه مونږ وئېلی شو چې ادب د ټولنيز عمل نتيجه ده. دا ټولنيز عمل دی چې د يوۀ اديب د احساساتو او جذباتو د تحريك باعث ګرځي. چې پايله ئې د ادب وجود وګرځي. دې خوا ته د اردو ادب ستر کره کتونکی خواجه الطاف حسېن حالي داسې اشاره کوي:

"دا قاعده ده چې څۀ رنګه او څومره چې د ټولنې خيالات، رائې د هغې عادتونه، خوښې، ميلان او مذاق بدليږي هغومره د شعر حالت بدليږي. دا بدلون بالکل بې اراده معلوميږي. په دې چې د ټولنې د حالت په بدلېدو شاعر په قصد خپل رنګ نۀ بدلوي. بلکې له ټولنې سره سره په دۀ کښې هم بدلون راځي"(3)

دلته حالي د لاشعوري اثراتو و خوا ته اشاره کړې ده. هغه اثرات کوم چې د اديب لاشعور متاثره کوي د دې عمل په وجه هغه په غير ارادي ډول د ټولنې په رنګ و رنګيږي. هم دغه رنګ، اديب د تخليق په بڼه کښې و ټولنې ته واپس کوي. له دې څخه مونږ دا پايله اخستلی شو چې ټولنه ادب متاثره کوي نۀ دا چې ادب ټولنه متاثره کوي. نو بيا دلته دا پوښتنه را منځ ته کيږي چې په ادب او ټولنه کښې د چا حېثيت فاعلي دی او د چا حېثيت مفعولي؟. د دې پوښتنې ځواب کله کله د اديب تخليق په خپله ورکوي که چرې په ټولنه کښې ظلم او جبر شتون لري. لاقانونيت خپور شوی وي او اديب په خپل تخليق کښې و ژړا او مرثيه خوانۍ ته ځائ ورکوي نو بيا د ټولنې حېثيت فاعلي دی او د ادب حېثيت مفعولي. که چرې اديب په خپل تخليق کښې د صبر، استقامت، جرات او د نوي ژوند او اميد پيغام ورکوي نو دلته بيا د ادب حېثيت فاعلي او د ټولنې حېثيت مفعولي شي. د الطاف حسېن حالي له خوا مونږ ته د دې پوښتنې ځواب داسې را کول کيږي:

"که څۀ هم په لومړي سر کښې د ټولنې فاسد مذاق شاعري ته له لارې چپوي خو کله چې شاعري له لارې واوړي نو د دې زهرجنه هوا و ټولنه ته ډېر سخت زيان رسوي"(4)

که څۀ هم دا خبره تر څۀ حده پورې صحيح معلوميږي. خو ادب عموماً په ټولنه کښې د مثبت اقدارو په پرمختګ کښې مرسته کوي او د منفي رسم او رويو د مخنيولو هڅه کوي. په همدې وجه و ادب ته د ژوند کره کتنه وئېل شوې ده. دا هغه لامل دی چې ادب کله نا کله بلکې هميشه په دوو برخو وېشل شوی ليدل کيږي. لکه جدت او رجعت،

رجعت خوښوونکي هر نوی فکر، ترقي یا پرمختګ نهٔ قبلوي که څهٔ هم هغه په ټولنیز ژوند کښې مثبت رول لوبولی شي. او جدت خوښوونکي د رجعت خوښوونکو په ضد هر نوی شی و خپلې ټولنې او ادب ته د راوړلو په هڅه کښې لګیا وي. خو د هغهٔ منفي اړخ ته پام نهٔ کوي. دوئ په ټولنه کښې هر جوړ شوی قدر که هغه منفي وي که مثبت د جدت په نامه د ختمولو هڅه کوي. دا عمل له ادب سره سره په ټولنه کښې هم د انتشار باعث ګرځي.

"د ادیب دپاره لومړی شرط دا دی چې دی به رښتونی وي. د جذبې صداقت به لري. ادیب د خپلو جذبو ترجمان وي. د هغهٔ نېکي دا ده چې هغه د رښتیاوو څخه کار واخلي. د رښتیا مطلب دا چې د خپلو جذبو رښتونې ترجماني وکړي. که چرې شاعر د خپلې ټولنې ترجمان او خذمت کوونکی وي نو دهٔ له په کار دی چې په هغو نېکیانو کښې ورګډ شي کومې چې د ټولنې هر فرد دا رنګه پاك کړي چې په دې عمل ئې د ټولنې د خذمت دپاره په روحاني توګه اماده کړي"(5)

د جذبې دا صداقت ادب د ټولنې د تعمیر باعث ګرځوي. ادیب په خپل داخل کښې چې څهٔ دی هغه تر ځانه پورې محدود دی. خو کله چې دی له دې خول څخه دباندې را وځي هلته دی له یو داسې ټولنې سره مخامخ کیږي چرې چې دی ژوند تېروي. دلته به دی فکر د انفرادیت په ځائ د اجتماعیت په لور د وړلو هڅه کوي. کروچې وائي:

"چې کله فنکار خپلې فنپارې ته بهرنۍ بڼه ورکوي یعنې کاغذ ته ئې اړوي هلته بیا دی د خپلې حلقې څخه دباندې راوځي چې کله په عملي نړۍ کښې قدم ږدي نو بیا به د عملي نړۍ د ټولنیز او اخلاقي قدرونو خیال ساتي"(6)

په نړۍ کښې چې څومره لوئ ادب تخلیق شوی دی د هغه د زېږېدو لویه ذریعه د ټولنې مثبت اقدار دي. په پښتو ادب کښې چې مونږ خوشحال خان خټك ګورو یا رحمان بابا دوئ لوئ او افاقي ادب ځکه تخلیق کړ چې دوئ د ټولنې د مثبت اقدارو حدود نهٔ دي مات کړي.

بلکې مثبت اخلاقي قدرونه او ټولنيز رسمونه د دوئ د عظيم تخليق باعث ګرځېدلي دي. پروفېسر بوچر وائي:

"د لاتګي نس نه پرته بل يو يوناني کره کتونکي حتٰی چې ارسطو هم دې خوا ته پام نهٔ دی کړی چې په ادب کښې د اعلٰی او عظيمو تصنيفو (تصانيفو) د پيدا کولو ذريعه د هغه زمانې اخلاقي او ټولنيز رسم و رواج وو"(7)

په دې تناظر کښې چې مونږ ادب ته ګورو نو کله هم چې ادب په ټولنيزو حدودو کښې نهٔ پاتېږي نو مړ کيږي او ورکيږي. د کومې ټولنې او ادب نقاد چې و دې خوا ته پام نهٔ دی کړی. د هغهٔ کره کتنه بې ګټې پاتې شوې ده. دا عمل تش دا نهٔ چې د کره کتونکي او ادب دپاره زيان مند دی بلکې د ټولنې دپاره هم د زيان باعث ګرځي. هغه ادب چې په خپله ټولنه کښې د يوې بلې ټولنې د نمائندګۍ هڅه کوي د دې مطلب دا شو چې دا ادب د ذهني مفلسۍ ښکار دی. ذهني مفلسي او ړوند تقليد ټولنه د انحطاط و خوا ته بيائي. او دا عمل د يوې ټولنې د وخت د تجربو په رڼا کښې جوړ شوي حدود له نېستۍ سره مخ کوي.

" د فکر او قلم خاوندان يو نصب العين د قوم په مزاج او شعور کښې دا رنګه وراچوي چې له هغه څخه قامي تشخص پيدا کيږي او دا تشخص تر پېړيو پورې دوام پيدا کوي او بيا د قام د انحطاط په وخت دا تشخص د يو اخري دفاعي حصار او قوت په حېث ځان ښکاره کوي"(8)

اوس د اديب خوښه ده چې د ټولنې حدود ماتوي او که په هغه کښې پراخوالی پيدا کوي او وقام ته يو نصب العين ورکوي. د دې مثال په پښتو ادب کښې مونږ د خوشحال خان خټک ورکولی شو. دا فريضه خوشحال خان خټک په خپله شاعرۍ کښې سر ته رسولې ده. هغه په خپله شاعرۍ کښې د پښتون قام دپاره يو نصب العين لري. د هغهٔ مقصد دا ؤ چې پښتون په خپله ټولنه کښې يو قامي تشخص ولري او پيدا ئې کړي. دې شي د خوشحال خان خټک شاعري په پښتو او پښتنو کښې هغه مقام ته ورسوله چې د بل چا په برخه نهٔ شو. خوشحال خان خټک د يو نقاد په حېث په خپله ټولنه کښې ځان ښکاره کوي. د پښتني ټولنې د حدودو

ادراك کوي او بیا ئې تعین کوي. په هم دې حدودو کښې د پرمختګ لاربښونه کوي او په خپله هم د هغه دپاره تیاري نیسي.

"یو ادیب د خپل چاپېریال څخه متاثر کېږي او بیا په خپل چاپېریال اثر اندازه کېږي. دا رنګه په یوۀ وخت دی د خپل ماحول هم خالق دی هم مخلوق"(9)

د خالق او مخلوق په دواړو صورتونو کښې دی د ټولنیزو حدودو څخه ځان نۀ شي اېستلی. او په حېث د ټولنې د یو فرد چې دی د ټولنې په ښو او بدو نظر و نۀ لري ولې چې په ټولنه کښې عام سړی د لارښوونې کومه توقع چې له ادیب څخه لري ښائي د بل چا څخه دومره نۀ ولري.

"زمونږ ټولنه د ادیب څخه غوښتنه کوي چې هغه دې یو بې ثمره نه بلکې بارداره ونه شي چې له ښایست سره سره د فلاح باعث هم وي. او هغه د قام د ترقۍ او خوشحالۍ دپاره کار وکړي"(10)

دا کار یا فریضه په ادب کښې د کره کتنې په غاړه ده. په دې چې کره کتنه د ادیب او ټولنې په منځ کښې د پُل کردار ادا کوي. که چرې پُل مضبوط وي نو د ادیب او ټولنې په منځ کښې به رابطه مضبوطه وي. دا رنګه که نقاد (کره کتونکی) د خپلې ټولنې سره سره د ټولنې د مثبت اقدارو، رسم و رواج او تاریخ سره مضبوط تړون ولري نو هغه ادیب او ټولنه دواړه په خپل حدود کښې ساتلی شي.

"کره کتونکي ته په کار دي چې د ادب او د هغۀ د متفرقو ځانګو په خصوصیاتو ځان خبر وساتي. دی باید د تاریخ مطالعه او خبرتیا ولري. دی باید د ماضي ټولې ادبي دورې، د هغو د نشو ونما او عروج و زوال باندې خبر وي"(11)

د کره کتونکي تاریخي شعور د هغۀ د عصري او ټولنیز شعور په جوړولو کښې مرسته کوي. په دې وجه دی د ټولنې حدود و پېژني او دا راز هم پیدا کړي چې د یوې محدودې ټولنې په حدودو کښې پراختیا څنګه راتلی شي. د تاریخي شعور د خواهش مطلب دا نۀ دی چې سړی دې ماضي پرست شي. او د ټولنې هغه حدود دې نۀ ماتوي کوم چې د

ټولنې د فرد فکر ئې محدود کړی دی بلکې فکري محدودیت د ټولنې مرګ دی. او نۀ د عصري شعور معنا دا ده چې د خپلې ټولنې تربیت داسې وي چې هر زوړ شی د ماتولو او زوړ فکر د پرېښولو وړ دی.

"ادب په خاص ماحول کښې د راګېرو خلقو د منفي سرګرمیو په خلاف جذبات راپاروي او بیا د ناکاره امور په ختمولو کښې د دوئ مرسته کوي او د ښۀ او خوشحال ژوند دپاره لار هواروي. دا رنګه یو ښکلی چاپېریال سازوي"(12)

کله داسې چې ستونځه هم را منځ ته شي چې ادیب په ټولنه کښې یو شی فرسوده ګڼي خو هغه فرسوده نۀ وي. په ټولنه ئې مثبت اثرات لوېږي.

"که چرې ادیب په مغالطه کښې لوېږي او د یو داسې شي فرسودګي په ګوته کوي چې د دۀ په نظر فرسوده وي خو په ټولنه کښې فرسوده نۀ وي. دلته ادیب له په کار دی چې خپل ذوق او خپل شخصي تمایلات نظر انداز کړي او د ټولنې مفاد په نظر کښې ونیسي"(13)

په داسې صورت حال کښې کره کتنه د ادب او ټولنې دواړو لارښونه کوي. که چرې داسې شی، روایات یا رسم ټولنه په ګټه بولي او ادیب ئې فرسوده، نو نقاد د خپل عصري او ټولنیز شعور په مرسته چې د تاریخي شعور د تسلسل په وجه پوخ شوی دی ادب او ټولنې ته لارښونه کولی شي.

دا رنګه مونږ په دې بحث کښې دې پایلې ته رسېږو چې د ادب او ټولنې تر منځ که کره کتنه نۀ وي نو ادب د خپلې ټولنې او ټولنه د خپل ادب ځخه پردی کېږي. کره کتنه ادب او ټولنه د یو بل دپاره په کار راوستلی شي.

❖❖❖

# حوالې

(1)رضوی، سجاد باقر، مغرب کے تنقیدی اصول، طبع دوئم، ایچ آر سنز، لاہور، 1971ء، ص241.

(2)احتشام، حسین سید، تنقیدی نظریات، بختیار پرنٹرز، لاہور، س ن، ص128.

(3)حالی، خواجہ الطاف حسین، مقدمہ شعر وشاعری، جدید بک ڈپو لاہور، 1985ء، ص21.

(4)ایضاً، ص29.

(5)سید، عبداللہ، ڈاکٹر، اشارات تنقید، مکتبہ خیابان ادب، لاہور، 1966ء، ص62.

(6)ایضاً، 109.

(7)زور، سید محی الدین، ڈاکٹر، روح تنقید، لاہور، معین الادب 1955ء.

(8)شمیم، احمد، زاویہ نظر، روبی پبلشرز کوئٹہ، 1987ء، ص16.

(9)سلام، سندیلوی، ڈاکٹر، ادب کا تنقیدی مطالعہ، طبع چہارم، مکتبہ میری لائبریری لاہور، س ن، ص33.

(10) یوسفزی، سحر، ادب څۀ دی؟، طبع سوئم، شعیب سنز مېنګوره سوات، 1996ء مخ 82.

(11)زور، سید محی الدین، ڈاکٹر، روح تنقید، ص110.

(12) یوسفزی، سحر، ادب څۀ دی؟، مخ 199.

(13) معتمد، محمد اکبر، ادب د اولس په خدمت کښې، د زېري کالنۍ، کابل، د افغانستان د علومو اکاديمي 1357 ش، مخ 521.